# نورو ته خدمت

## حقيقي لويوالی او عظمت

### د پیل ټکی

د یو کس په هکله فکر وکړئ چې ډېر زیات احترام یې کوئ. څه ځانګړتیاوې مو په دې سړي کې لیدلي دي چې تاسو ته د ستاینې وړ دی؟ دا سړی څرنګه دا خصوصیات په خپله ورځني ژوند کې ښکاره کوي؟

د یو کس په هکله فکر وکړئ چې ټول ورته درناوی کوي. کوم خصوصیات د دې سبب شول چې دا سړی د ټولو په نظر کې یو لوی کس بلل کیږي؟

### په کلام باندې تعمق او غور

زمونږ د ټولو په دننه کې دا لېوالتیا شته چې د نورو د درناوۍ وړ اوسو او مونږ ته ارزښت راکړي. غواړو چې د نورو په نظر کې ښاغلی او ارزښتمن واوسو. خو کوم شیان مونږ ښاغلی او ارزښمن کوي؟ څه شی د دې سبب ګرځي چې لوی کس شو.

مرقس ۹: ۳۳- ۳۵ ولولئ.

- شاګردانو نه غوښتل چې عیسی پوه شي چې دوی په څه بحث کوي. ولې؟
- تاسو به څنګه د عیسی په وینا "لومړي" شئ؟
- ایا عیسی د دوی سره د لوی کېدو غوښتنې لپاره ناراضه وو؟

د عیسی شاګردان په ظاره همدارنګه په دې کش او ګیر کې ؤ. د دې پیغام نه لږ څه وروسته مو ولیدل چې هغوی بیا په دعوو باندې بوخت شول.

مرقس ۱۰: ۴۲-۴۴ ولولئ.

- توپیر د "حاکمانو" او هغه کسان چې غواړي د عیسی په پاچاهی کې لوی وي، په څه کې دی؟
- د دې ایاتونو اوریدل په کومو دلیلونو لکه څنګه چې شاګردانو ته سخت ؤ، مونږ ته هم ستونزمن وي؟

### بحث او خبرې

د یو خدمتګار دنده دومره ښه نه ده، بلکه ډېره ستړې کونکې ده. د هغه خدمتونه هېڅکله دومره شانداره او تجمل نه ډک نه دي بلکې غالبا د پاکی کارونه هغه ته نه سپارل کیږي. معمولا خلک یې هم سمدستي د دندو د سرته رسولو په خاطر تعریف نه کوي. په یوه مېلمستیا کې ټول د سراشپز ستاینه کوي، خو څوک چې لوښې مینځې، اصلا په پام کې نه نیول کیږي.
نورو ته خدمت کول امکان لري مونږ ته هم د شاګردانو په شان سخت وي، خو عیسی وایي چې لویوالي ته د رسېدو همدا لار ده.

- په ځلورو یا څو کارو باندې فکر وکړئ چې معمولا "خدمتګارانو "ته سپارل کیږي.
- مونږ ولې د خدمت کولو په وړاندې مقاومت کوو؟
- د هغه چا په اړه چې تشنابونه پاکوي ستاسو د فصاحت ارزونه څه ده؟
- که له تاسو نه وغوښتل شي چې یو کار سرته ورسوئ چې د "خدمتګارانو" دنده ده، تاسو ته به څه احساس پیدا شي؟

### اصلي مفکوره

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

**عیسی مونږ ته ښيي کله چې خدمتګار واوسو، لوی یو.**
عیسی غواړي چې مونږ لوی کسان واوسو. هغه مونږ ته بلنه راکوي چې د هغه په پاچاهۍ کې د عظمت غوښتونکي واوسو. هغه نه یوازې موږ ته تعلیم راکوي، بلکه د عظمت لاره ښيي. تر ټولو د لوړمقام کس په خپله عیسی چې هغه شان خدمت کاوه، هماغه شان خدمت له مونږه هم غواړي(متی ۲۰:۲۸). هغه تر ټولو نه د ځینو خوارو او سپکو کارونو څخه هم ډډه نه کوله ـ داسي خوار او سپک کارونه چې شاګردان یې هم ځیني وخت پرې شرمېدل چې استاذ یې تر دې حده پورې هغوی ته پام کوي او د هغوی خدمت کوي! خو عیسی په پوره توګه تیار ؤ چې داسي وکړي.

ځکه هغه دغه د حقارت او عاجزۍ لاره غوره کړه، خدای هم هغه سرفرازه کړ او هغه ته یې جلال ورکړ.

عیسی له مونږ نه غواړي چې د هغه د مثالونو څخه پیروي وکړو. هغه مونږ ته بلنه راکوي چې د خدمت کولو لاره غوره کړو او پرېږدو چې خدای مونږ سرفرازه کړي.

لویي هغه څه نه دی چې د خدمت له لارې په طبیعي توګه مونږ ته راشي، بلکې په جدي توګه باید د هغه په لټه کې اوسوو او خدمت کول په دوامداره توګه تمرین کړو. ایماندارو ته د خپل ایماني ژوند په هر پړاو کې بلنه ورکول کیږي چې په دوامداره توګه نورو ته خدمت وکړي. مونږ هېڅکله هغه پړاو ته نه رسېږو چې نور خدمت کولو ته اړتیا نه وي، بلکې مونږ یوازې په ډېر خدمت کې وده کوو او نور هم د عیسی په شان کیږو.

## همدا اوس په ګډه تمرین وکړئ.

تاسو پرته د خدمت کولو هېڅکله نشئ کولای د یو خادم په توګه وده وکړئ.

1. فکري طوفان: په ډېرو مختلفو لارو فکر وکړئ چې د هغه له لارې کولای شئ نورو ته خدمت وکړئ.

د هر یو لاندې ټکو دپاره دوه نظرونه ووایئ:

- ستاسو کورنۍ
- د کلیسا یو غړی
- څوک چې نه پیژنۍ

1. یو ټکی غوره کړئ: د دې نظرونو د سرته رسولو په خاطر وعده وکړئ.
2. پلان جوړ کړئ: څنګه او کوم وخت غواړئ په دې هفته کې دا خدمت سرته ورسوئ؟

د یو بل دپاره دعا وکړئ ترڅو د خدمت په لویي کې وده وکړئ.

## هره ورځ خپل تمرین تکرار کړئ.

- هغه وعده چې د خدمت کولو دپاره مو کړې ده، سر ته ورسوئ. بیا د یو بل سره اړیکه ونیسئ او د خدمت د سرته رسولو تجربې د یو بل سره شریکه کړئ.
- یوحنا ۱۳ فصل ولولئ
  - عیسی ته د هغه د مثال په خاطر چې مونږ ته یې پرېښی ده، جلال ورکړئ.
  - همدارنګه چې د عیسی د ژوند په هکله فکر کوئ، څه شی تاسو هڅوي چې تاسو هم د هغه په شان خدمت وکړئ؟

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved